مجيب الرحمن ساپی ۲۰۱۲/۰۲/۰۶

# سوريه ؛ ناتار او ګاونډيان

د سوريې عربي جمهوريت د آسيا په لوېديځ او د مديتراني سيند په ختيځو سيمو پروت هېواد دی. سوريه له شمال لوري له تريکې، له ختيځ لوري له عراق، له لوېديځ لوري له لبنان او د مديتراني له سيند او له سوېل لوري له اردن او اسراييل سره په پولو پرته ده.
د سوريې کابو ۷۴ سلنه وګړي سني مسلمانان،۱۳ سلنه شيعه، ۱۰ سلنه مسيحي او ۳ سلنه دروزيان دي، چې اوسنی واکمن بشارالاسد د شيعه‌وو له ډلې څخه دی. د سوريې لوړپوړه امنيتي او پوځي افسران ډېری د اسد له کورنۍ يعنې له شيعه‌وو څخه دي، چې په دغه هېواد کې تر ټولو کوچنی مذهب شمېرل کېږي؛ خو سنيان د حاکم بعث ګوند مرکزي کمېټۍ ډېرې څوکۍ په لاس کې لري. دغه ګوند يوازينی ګوند، چې په سوريې کې رسمي فعاليت لري.

په ۱۷۹۹ زېږدي کال کې د ناپليون بناپارټ له لوري د مصر تر ولکې لاندې راوستلو سره سم سوريه هم د فرانسې تر ولکې لاندې راغله. د مصر له نسبي آزادۍ سره سوريه بياځلي عثماني امپراتورۍ پورې وتړل شوه. په سوريې کې د مسيحيانو ځورونه او همدا راز د د هغوی ځپل د دې لامل شول، څو يو ځل بيا فرانسې پر سوريې بريد وکړي، چې په ۱۸۶۰ زېږدي کال کې فرانسې عثماني سلطان ته د مرستې تر نامه لاندې خپل ځواکونه په بيروت کې، چې هغه مهال د سوريې خاورې پورې تړلی وو مېشت کړل. په ۱۹۱۴ زېږدي کال کې لومړۍ نړۍ والې جګړې ته د عثماني امپراتورۍ په داخلېدو سره عربو ملت پالو د خپلواکۍ لپاره ښه چانس تر لاسه کړ او خپل فعاليت يې پيل کړ.

د لومړۍ نړۍوالې جګړې له ختمېدو سره جوخت، چې په دغې جګړې عثماني امپراتورۍ له ماتې سره مخ شو د سوريې د خلکو له لوري امير فيصل بن حسين، چې وروسته بيا د عراق پادشا شو، د سوريې پادشاه په توګه وټاکل شو. په ۱۹۲۰ زېږدي کال کې د متفقينو او فرانسې ځواکونو پر سوريې يرغل وکړ او سوريه او لبنان د ملګرو ملتونو له رايې سره يې تر خپل قيموميت لاندې راوست. په ۱۹۴۱ زېږدي کال کې د بريټانيې او د آزادې فرانسې ځواکونو سوريې تر خپل ولکې لاندې راوسته. په همدې کال کې سوريې خپله خپلواکي اعلان کړه او د ۱۹۴۱ زېږدي کال د سپټمبر مياشتې په شپاړسمه نېټه شيخ تاج الدين حسنی د دغه هېواد ولسمشر په توګه وټاکل شو؛ خو تر ۱۹۴۴ زېږدي کال پورې عملاً سوريې خپلواکي نه درلوده. بالاخره په ۱۹۷۰ زېږدي کال کې د بشار الاسد پلار حافظ اسد د کودتا په ترسره کولو سره وتوانېد، څو واک ته ورسېږي.[1]

حافظ اسد له ۱۹۷۰ زېږدي کال څخه تر ۲۰۰۰ زېږدي کاله پورې يې د سوريې واک په لاس کې درلود او له مړينې څخه يې وروسته د ده زوی بشار الاسد د ولسمشر په توګه وټاکل شو، چې اوس هم د سوريې واک په لاس کې لري.
له هغه وروسته، چې بشارالاسد د خپل پلار ځای ناستی شو، نو ويې غوښتل، چې له خپل ګاونډي هېواد ترکيې سره اړيکې ښې کړي، چې په لنډه توګه به ورته اشاره وکړم.

کله، چې بشار الاسد واک تر لاسه کړ، نو خپل مرستيال عبدالحليم خدام يې انقرې ته واستاوه او د بشارالاسد د دوستۍ او ګډې همکارۍ پيغام يې د ترکيې ولسمشر نجدت سزر ته يوړ. د سياسي مذاکراتو په لړ کې دواړو لورو پرېکړه وکړ، څو خپلې، پوځي اقتصادي او فرهنګي اړيکې زياتې کړي. د همدې پرېکړې له مخې د ۲۰۰۱ زېږدي کال په لومړيو کې د سوريې يوه پوځي پلاوی ترکيې ته سفر وکړ او همدا راز ۲۰۰۱ زېږدي کال د جون په مياشت کې بياځلي دغه ليدنه تر سره شوه.
په همدې کال د سوريې او ترکيې ترمنځ سوداګريزه راکړه ورکړه ۷۵۰ مليونو ډالرو ته لوړه شوه.

---

[1] يوهنغونډ (ويکي پيديا)


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

له ایران سره بیا د سوریې اړیکې له ډېرې مودې ټینګې دي. په ځانګړي توګه هغه مهال، چې په ایران کې انقلاب بریالی او آخوندي نظام رامنځ ته شو، چې دغه اړیکې د بشاالاسد د واکمنۍ پر مهال لا پراخې شوې. دغه اړیکې تر دې بریده پراخې شوې، چې ویل کېږي بشار الاسد د له واک تر لاسه کولو څخه وروسته تر دې مهال دیارلس ځله ایران ته سفر کړی دی.

له هغه وروسته، چې په تونس کې د محمد بوعزیزي په نامه یوه شپږ ویشت کلن ځوان د تولنیزو ناخوالو له امله ځان ته اور واچاوه، چې د دغه هېواد حکومت پر وړاندې د پاڅونونو لامل شو او پاڅون کوونکې وتوانېدل، څو د تونس دیکتاتور زین العابدین بن علي نسکور کړي، نو دغه پاڅونونه مصر، لیبیا، یمن، بحرین او د تېر کال د مارچ میاشتې په ۱۵ نېټه سوریې ته ورسېدل.

هغه مهال، چې په سوریې کې پاڅونونه پیل شو، نو واکمنې کړۍ، چې هماغه دیارلس سلنه دي او په پاتې ۸۷ سلنې حکومت کوي داسې انګېرلې وه، چې وبه کولای شي دغه پاڅونونه ژر تر ژره ودروي.
د همدې ا نګېرنې له مخې یې یو شمېر پاڅون کوونکې یې زندانیان کړل او یو زیات شمېر ته یې مرګ ژوبله واړوله، چې د ملګرو ملتونو د رپوټ له مخې په سوریې کې د تاوتریخوالي له امله له پنځو زرو ډېر کسان وژل شوي دي.
په سوریې کې خپلواکو رسنیو ته اجازه نشته، څو له تاوتریخوالو څخه نړۍ خبره کړي؛ خو بیا هم پاڅون کوونکې له ټکنالوژۍ څخه په ګټې اخیستنې سره خپل غږ نړۍوالو ته رسوي.

له کله، چې په سوریې کې تاوتریخوالي رامنځ ته شوي دي، نو دغو تاوتریخوالو د سوریې او ترکیې پر اړیکو سیوری غړولی دی. حتی دا، چې د ترکیې لومړي وزیر رجب طیب اردوغان په وار وار بشار اسد ته خبرداری ورکړی، څو له تاوتریخوالو څخه دې لاس پر شي؛ خو د بشار اسد له لوري د اردوغان دغو خبرداریو ته کومه پاملرنه نه ده شوې.

ترکیه د دوو لاملونو له مخې پر بشارالاسد فشار راوړي: لومړی دا، چې ترکیه او سوریه ګاونډي هېوادونو دي او له کله، چې په سوریې کې تاوتریخوالی پیل شوی دی نو یو زیات شمېر سوریان د ترکیې خاورې ته کډوال شوي او په کمپونو کې ژوند کوي او دویم هغه یې دا، چې ترکیه د لوېدیځ متحده ده او د دې لپاره، چې لوېدیځ له ځانه خوشحاله وساتي، نو لږ تر لږه باید پر سوریې ډول ډول فشارونه وارد کړي همدا راز کولای شو د سوریې په خاوره کې د ترکیې دولت وسله والې مخالفې ډلې پې کې کې د ځینو غړو له شتون څخه هم یادونه وکړو، چې دا خپله دېته لاره هواري، څو ترکیه دې پر بشارالاسد فشار راوړي.

د ایران مسله برعکس ده. لکه څنګه، چې لیدل کېږي په سوریې کې یوازې ۱۳ سلنه علوي شیعیان په پاتې ۸۷ سلنې حکومت کوي او دا هغه څه دي، چې ایران یې غواړي او تر وروستې بریده به له بشار اسد څخه ملاتړ وکړي.
د حافظ اسد واکمنۍ پر مهال د اسراییل او سوریې ترمنځ جګړې رامنځ ته شوي دي، چې د دغو جګړو له امله د اسراییل له لوري د سوریې د جولان غونډۍ تر ولکې لاندې راوستل شوي دي او سوریې تر دې مهاله دا توان نه دی پیدا کړی، څو دغه غونډۍ بېرته له اسراییل څخه آزادې کړي. سوریه اسراییل خپل تاریخي دښمن ګڼي، چې په ایران کې د انقلاب له رامنځ ته کېدو څخه وروسته ایران او اسراییل هم د یو بل پر دښمن بدل شوي دي، چې دا خپله د سوریې او ایران د نږدې والي لامل شوی دی.

همدا راز ایران او سوریه دواړه د لویدیځو هېوادونو په ضد دي. په وروستیو کلونو کې د ایران اتمي خپرونو پر سر د ایران او لوېدیځو هېوادونو ترمنځ د رامنځ ته شویو شخړو له امله، چې اوس مهال دغه شخړې خپل وروستي برید ته رسېدلي دي د دې لامل شوي، څو ایران په سیمه کې ستراتېژیک متحد ولري، چې تر دې مهاله سوریې توانېدلي، څو دغه رول په سمه توګه ولوبوي.
له بل لوري ایران د لبنان له حزب الله رامنځ ته کړی دی او هم په بشپړه توګه ورسره مرستې کوي، چې دغه ګوند بیا پخپل وار سره له بشار الاسد څخه ملاتړ کوي.

د تېرې اونۍ په ترڅ کې سوریایي پاڅون کوونکې هغه ویډیو خپره کړه، چې په کې د ایران ساتونکې ځواک یا سپاه پاسداران پورې اړوندو کسانو د پاڅون کوونکو پر وړاندې ډزې کولې، چې شمېر اته تنه وو او دغه کسان د سوریایي


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پاڅون کوونکو له لوري نیول شوي هم، چې ایران به دغه ادعا په کلکه رد کړي؛ خو په سوریې کې د ایران ګټو ته په پام سره دغه کسان به حتما د ایران ساتونکو ځواک پورې تړاو درلود.
همدا راز د ځینو رپوټونو له مخې ایران سوریې ته وسلې او نور پوځي تجهیزات استوي، چې دغې کړنې د ملګرو ملتونو د سازمان او نړیوالې ټولنې اندېښنې راپارولې دي.

له کله، چې په سوریې تاوتریخوالي شدت وموند، نو عربي ټولنې خپل څارونکي دغه هېواد و استول؛ خو له شاوخوا یوې میاشتې څارنې څخه وروسته د عربي ټولنې غړي مراکش د سوریې پر وړاندې یوه مسوده د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته وړاندې کړه. د دغې مسودې په اړه له عربي ټولنې سره اروپایي ټولنه هم همغږې وه؛ خو د ملګرو ملتونو په امنیت شورا کې د سوریې پر وړاندې مسووده د چین او روسیې له لوري رد شوه. په دغې مسودې کې له بشار اسد څخه غوښتل شوي وو، چې له واک څخه دې لرې شي او واک دې خپل مرستیال ته وسپاري، څو د ملي یووالي دولت رامنځ ته کېدو لپاره زمینه برابره شي.

له بلې خوا په دې وروستیو کې د سوریې دولت او پاڅون کوونکو ترمنځ تاوتریخوالی خپل وروستي برید ته رسېدلی دی او د سوریې دولت مخالفین هم پیاوړي شوي او د بشار اسد د ګوښه کېدو غوښتنه کوي. هغه غوښتنه، چې د بشار اسد او پلویانو له لوري په کلکه او په وار وار رد شوی دی.

په پای کې کولای شم ووایم چې:
1. بشار اسد به د مخالفینو او لوېدیځو هېوادونو د لا زیاتو فشارونو له امله اړ کړی شي، څو له واک څخه لاس پر سر شي.
2. شوني ده، چې د سوریې ناورین پرسر د ایران او ترکیې اړیکو ترمنځ جدي شخړې رامنځ ته شي.
3. په سوریې کې به د ایران لاس وهنې او ناوړه کړنې پای ته ورسېږي؛ خو بیا به هم ایران هڅه کوي، څو هلته داسې نظام رامنځ ته کړي، چې د ایرن ګټې خوندي وساتي.
4. لکه څنګه، چې روسیه په سوریې کې ګټې لري او د اوسني نظام تر سیوري لاندې د روسیې ګټې خوندي شوي دي، نو د لیبیا په څېر به په سوریې کې هم د روسیې ګټې په بشپړه توګه له منځه لاړې شي.
5. له نوي رامنځ ته کېدونکي نظام سره به د ترکیې اړیکې لا پراخې او ښې شي.
6. شوني ده، چې د نوي رامنځ ته کېدونکي نظام او اسراییل ترمنځ اړیکې ښې شي، چې د دغو اړیکو په پایله کې به اسراییل د جولان غونډیو سپارلو ته اړ شي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ